آصف بهاند ۲۰۱۷/۰۹/۱۷

# زه له خپل سیوري نه دارېږم، تبنتم

تورو تیارو د خپل ضمیر کې ګیر یم

د ځو خوبونو او فکرو اسیر یم

زما د ذهن تور بچیان رانه چاپیر دي

او بلاوې مې خوري

له لوبو منډو نه هم پاتي یمه

راپسي وايي چې ځانساتی یمه

داسي پخوا نه ومه

ډېر څه مې خپل وو، یکتنها نه ومه

تانده ځوانی کې به مې شړقنده کاکل وهلو

بل به که یو څرخ و واهه، نو ما به شل وهلو

اوس هم له ځان، هم له جهان دارېږم

پردي خو پرېږده، له خپلوان دارېږم

د جګړې غږ، د وير او وینو تصویر

دې برید ته راوستمه

زه له خپل سیوري نه دارېږم، تبنتم

ځای د پناه نه لرم


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ



**ان په خپل ذهن کې نه ځایږمه**

**ډارېږمه، هغه نم تبنتم**

**له ما نه ګرد چاپیره**

**سل زر بلاوې تاو دي**

**یا خو به هیڅ هم نه وي**

**او که زما د تصور بچیان دي**

**چې انګیرم یې داسې:**

**دا تور بچیان را نه چاپیر دي**

**او بلاوې مې خوري**

**ړنګې کلاوې مې خوري**

۲۰۱۷/۰۶/۲۱

هیدرسلیف

ډنمارک




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ